# په افغانستان کی دناټو روزنیز ماموریت

# اوږه په اوږه




NTM-A
NATO Training Mission
AFGHANISTAN

د ۲۰۱۲ کال د جنوری دمیاشتی لومړی ګڼه



پدی گنه کی — مخ


| | |
|---|---|
| دکابل سیمه ایزه ترونونو مرکز کی د افغان ښځینه و چارو په خپله ترسره کولوپه موخه د یوی خبری ناستی کوربه توب وکړ. | ۳ |
| افغان ملی پوځ د لوجستیکی چارو په موخه لومړی ناسته ترسره کړه. | ٤ |
| دافغان ملی پوځ دسهیل سیمه ایزه ملاتړ قوماندانی د ګارنیزون د قطعی ملاتړ کنفرانس په بهیر کی د امنیت لیږدونی پلان جوړول | ٥ |
| افغان ملی پوځ کماندو د ځانګړی جنګی پوځ سره یوځای شو | ٦ |
| افغان ملی اردو سرتیرو په سیمه ایزه سیموکی د نظامی عملیاتو په موخه روزنی ترسره کوی. | ٧ |
| د څارنی او مراقبت سلاکارانو د لومړی ځل لپاره دافغان هوای ځواک د الوتکو د پرواز دلارښونی په موخه یو لارښوونکی په ورته دنده وګمارل | ٨ |
| دافغانانو لخوا د ترسره شوو عملیاتو په بهیرکی دوسلو زیرمه او اسیران ونیول | ٩ |
| د بریدملانو پیاده جګړیزه کورس | ١٠ |
| افغان ملی پوځ سرتیری دخیمو درولو بنستیزه روزنی زده کوی | ١١ |
| د ګردیز د ښار د غاښوکلنیک ډاکترانو بهرینو سلاکارانو راتګ ته ښه راغلاست وویل | ١٢ |
| په جنوب ختیځ افغانستان کی د اړیکو پرو وراندی دمبارزی روزنی افغانانولخوا ترسره شوی. | ١٣ |
| د ترکي هیوا په اړه لنډ معلومات | ١٤ |


قوماندانی


| | | |
|---|---|---|
| په افغانستان کی دناټوروزنیز ماموریت | عمومی قوماندان | ډګرجنرال ډانیل بولجر |
| په افغانستان کی دناټوروزنیز ماموریت | سرپرکمشرقدمدار | جفری هاف |
| په افغانستان کی دناټوروزنیز ماموریت | قوماندانی داړیکو مسئول | ډګرمن ټیم ستافر |

| | |
|---|---|
| دطرحی او دیزان مدیر | پیتی آفسر جوســیف ســیوی |
| د مجلی دیزاین او ایډیټ | اخترمحمد «شینواری» |

په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت د عامه اړیکو د دفتر ژباړونکی اخترمحمد شینواری


اورېد په اوربد مجلی خپرونه دامریکی د دفاع وزارت او په افغانستان کی دامنیت لیږدونی ګډی قوماندانی لخوا خپریږی . یاده مجله په افغانستان کی دناټو روزنیز ماموریت د دایګرز په کمپ کی د عامه اړیکو دفترلخوا خپریږی چی د ژباړی چاری یی اخترمحمد شینواری پرمخ بیایي . د امریکی د دفاع وزارت د ۵۱۲۰.۴ لارښوونی سره سم دا وجله د امریکی دمتحده ایالاتو پوځیان چی د هیواد څخه بهر دی رسمی ګڼه ده. د اوربد په اوربد مجلی مختویات د امریکی د دفاع وزارت لخوا په رسمی توګه نه دی تصدیق شوی .



راپور:ډگرجنرال ډانیل بولجر

لیکوونکی : په افغانستان کی دناټو روزنیز ماموریت او د افغانستان امنیت لیږدونی
لپاره د گډی قوماندانی عمومی قوماندان ډگرجنرال ډانیل پی بولجر

زه نه پوهیږم چی لوجستیک څه مانا چی مارشال یی په اړه خبرو ته دوام ورکوی، داخبره د امریکی دمتحده ایالاتو د سمندری ځواک جنرال چی د دوهمی نړیوالی جگړی د عملیاتو قوماندان و د جگړی پرمهال کړی وه چی دا د جنگ په وخت کی دهغه زړه پوری مضمون و. لکه څنگه چی د هغه سرتیرو زده کړی و، غوسه ناک پاچا تل هغه څه لاس ته راوړل چی نوموړی غوښتل . هغه ډیر مشهور جنرال و. یوځل دنوموړی لور وویل چی زما پلار په نړی کی د غلی او چپ خوی خاوند و مگر خلکو وویل، چی نه هغه ډیر غوسه ناک و.

هغه ډیر بدخلاقه او خیلی و، خو هغه پدی پوهیدو چی د امریکی د متحده ایالاتو سمندری ځواک د انتلانتیک او په ۱۹۴۲ کی دامرکی د پوځیانو د جنگ ډگر ته اوږده لاره په مخکی پرته ده . شپاړ پوځیانو څنی ځوابونه لرل چی نوموړی ورته اړتیاده . مارشال د جنگ بنستیزه پلان جوړوونکی و او نوی جنرال چی ډی واپ ډی ایسن هور نومیده، لا ترمخه د امریکی دمتحده ایالاتو اقتصاد او د جگړی ملاتړ هڅو په موخه زیات فعالیتونه ترسره کړی و. ایسن هور هغه پلانونه چی ده جوړ کړی وی په عملی ډگر کی ترسره کړل. مارشال او ایسن هوراو پاچا دواړو هوکړه وکړه چی په گډه سره کار وکړی، لوجستیک به ساده ، مستقیم او د باور وړوی.

نن ورځ، زمونږ افغان ملگری ورته ستونزی سره مخا مخ دی. لکه پاچا افغان سرتیری، هوای ځواک او پولیس په سمه توگه نه پوهیږی چی لوجستیک څه مانا، مگر هغوی دی ته اړتیا لری چی پوی شی. مونږ دوی لپاره یو اسانه او ساده سیستم جوړکړیدی چی په لوړو زده کړو سمبال تخنکی چاروکی یی پرمخ بیایی، دسافویر یو غښتلی سیستم، چی دانترنت پوری تړلی او چی مرکزی کنترول اندازی پور کار کوی. لکه مری پوپین څرگندونی له مخی په معلومه توگه له هراړخه سم دی پرته له هغه استسنایی حالت څخه چی کار ونه کړی .

افغانستان غوره لوجستیک ته اړتیالری، او دوی ورته همدا اوس اړتیالری. اوس محال په افغانستان کی دناټو روزنیز ماموریت او د افغانستان د امنیت لیږدونی گډه قوماندانی له دوی سره کار کوی او افغانان دی ته چمتو شوی چی اوس لوجستیکی چاری په خپله پرمخ بوزی.نه په دوه کلونو کیو نه د ډیسمبر په ۳۱ او نه په ۲۰۱۴ کال کی، زمونږ موخه داده چی پدی جگړیزه موسم کی دوی تولی چاری په خپله او په سمه توگه ترسره کړی چی دبهیر ۲۰۱۲ کال د مارچ په میاشت کی پیل کیږی. مونږ غوره ماشین الات لرو مونږ کولای شو چی لوجیستکی لپاره دیاد وسایلو څخه په چټکی سره کار واخلوچی داکار د هیزنیور مارشال معیار سره سم دی. ساده، مستقیم او د باور وړدی.

دای یو ډیر ستونزمن پلان دیو په ځانگړی توگه د ساعت پرمخ بیول چی چاریی لاپخوا په کار اچول شویدی. دلته دښمنان زیات دی او هوا خرابه ده. مگر مونږ د جگړی لپاره ډیر غوره لوجستیکی چار واکی لرو، د برید جنرال ټیری لخوا یی مشری کیږی او همدرانگه د ۱۳ مفریزی چاروکی هم د امریکی د ټسکاز ایالت څخه را ورسیده. مونږ د افغانانو لپاره زیات وسایل په لاس کی لرو چی ترڅو دوی وکولای شی چی په ټولو چارو او دندو په ترسره کولو باندی په سمه توگه پوی شی.

افغان په غوره توگه هرڅه زده کوی . دوی دی ته چمتو ناست دی چی د نورو ولسوالیو او ولایتونو د امنیتی چارو مسولیت په غاړه واخلی. مگر ددی کار ترسره کولو په موخه باید دوی په غوره وسلو، خواړه، تیل ، په سمه توگه ادراه او په روغیتایی دوا درملو سمبال وی. د یو غوره او پرمختللی نظامی لوجستیکی سیستم رامنځته کول اسانه کار نه دی، مگر افغانان یی ترسره کوی. لکه جنرال ایرنسټ ، دوی پدی پوهیږی چی څنگه خپلی دندی ترسره کړ. زه د ډلیزه کار څخه مننددوی یم، دوی به هغه موخی چی دوی لاترمخ لری ترلاسه کړی.

اوږه په اوږه مجله د امریکا د دفاع وزارت اود افغانستان امنیت لیږدونی دگډی قوماندانی خپرونه ده. دغه خپرونه په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت دعامه اړیکو دفتر چی په کابل کی د ایگرز په کمپ کی موقعت لری خپریږی . د امریکا د دفاع وزارت د ۵۱۲۰،۴ لارښوونی مطابق دغه مجله د امریکا دمتحده ایالاتو پوځیانو لپاره چی دامریکا څخه د باندی میشت دی قانونی خپرونه ده. دیادی مجلی محتویات د امریکا د دولت لخوا په قطعی توگه نه دی منظور شوی.

دچټک ځواب په موخه، د برقی بارکوډ نمبر ۲ـ ډی دی د موبایل له لاری تاسی کولای شی چی سکن یی کړی او کولای شی چی د لا زیاتو معلوماتو او په ژوندی بڼه محتویات وگوری

# افغان ملی پوځ د لوجستیکی چارو په موخه لومړی ناسته ترسره کړه.

راپور: په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت دعامه اړیکو دفتر افسر جوسیف سیوی



افغان ملی پوځ د لوجستیک متخصیصنو د افغانستان د دفاع وزارت د لوجستیکی اړتیاو د غوښتنی او د توکو رانیولو پوره کولو په اړه ۱۴ فورمی په سمه توګه ډکول زده کړل.

کابل- افغان ملی پوځ د افغان دولت دلوجستیکی چارو په غوره توګه دپوهیدلو په موخه یوه غونډه جوړه کړه ترڅو افغانان د یادو چارو په اړه په غوره توګه پوی شی. دافغان ملی پوځ چارواکی چی دلوجستیکی څانګو پوری تړلی و د ټول افغانستان څخه په پولیچرخی مرکزکی سره راټول شوی وو ترڅو د یادی غونډی د ونډه اخیستونکو خبروته غوږ ونیسی او دا زده کړی چی څنګه د افغانستان د دفاع وزارت د لوجستیک ۱۴ فورمه ډکه کړی او څنګه یی د توکو ترلاسه کولو په موخه به سمه توګه استعمال کړی. د عملیاتو د پلانو جوړونی او د تخنیک ریس مرستیال عبدل هادی وویل،" یاد ورکشاپ د لوجستیک اړنده چاور د وړتیا د پراختیا لپاره چی د لوجستیک، مالی، نقلیه وسایطو او د ستاتلو په نور برخو کی کار کوی ډیر ګتور او مهم و." یادی غونډی اتلافی ځواکونوسلاکارانو ته ددی چانس ورکړ چی د لوجستیک اړونده نظریات د افغان چارواکوسره شریک کړی او د ستونزو هواری لپاره اسانه لاری چاری پیدا کړی ترڅو دوی وکولای شی چی خپلی دندی په ښه توګه ترسره کړی.

د کندهار ولایت د حمایوی قطعی لوړرتبه سلاکار وویل،" چی زه د د کندهار ولایت د حمایوی قطعی مسول ډګروال سره اوږه په اوږه کارکوم او هغه ستونزی چی غونډی په بهری کی ورباندی خبری وشوی مونږ په ګډه سره واریدی او مونږ هڅه کوو چی ددی ستونزو لپاره د هوارولو مناسبی او اسانه لاری چاری پیدا کړو."

یادی غونډی افغانانو ته ددی چانس ورکړ چی دهیواد ټول اړونده ملګرو سره لیده کاته وکړی او لوجیستیک نظری ورسره شریکی کړی او ستونزو لپاره یی دحل لاری پیدا کړی.

ویسان وویل،" ډګروال پدی وتوانیده چی خپل ملګری افسران وګوری او څنی نظریات یوله بل سره شریک کړی. دغه غونډه یو غوره متود و چی څنی ستونزی په داګه کړی." دوی هڅه کوی چی بیلا بیلو ستونزو لپاره بیلا بیلی د حل لاری پیداکړی."

د ویلسن وینا مطابق، یادی غونډی د افغان ملی پوځ د لوجیستکی چارو مسولینوته ددی لاره هم هواره کړه چی ټول اړونده معیارونو پوره کولو څخه ډاډ ترلاسه کړی."

ویلسن وویل،" لکه څنګه چی مونږ د لوجستیک سیستم نوی پړاو معرفی کړ، ترڅو د نوو فارمونو او درخواستیو په ترسره کولو باندی په غوره توګه پو شو." دا یو غوره کار و چی دوی مو په یوه خونه کی سره راټول کړل او دایی وویل چی دا معیار دی.

یاده غونډی موخه داوه چی افغان ملی پوځ د لوجستیکی څانګی چارواکی په چټکی او اسانی سره وکولای شی چی خپلو قطعاتو ته د جګړی په بهیر کی او پرته له جګړی دوی ته اړین خوراکی او نور وسایل په خپل وخت او زمان سره ورسوی.

ویلسن زیاتوی، چی د اتلافی ځواکونو مرستی به ترهغی پوری له دوی سره دوام مومی ترڅو چی دوی په خپله په ټولو لوجستیکو چارو باندی پوی شوی نه وی."

په افغانستان کی دناټو روزنیز ماموریت د ۳۷ هیوادنو څخه شامل دی چی د افغانستان دولت سره په هره برخه کی مرسته کوی ترڅو د ۲۰۱۴ کال ترپایه افغان ملی امنیتی ځواکونه وکولای شی چی د امنیت ټولی چاری په خپله غاړه واخلی.

# دکابل سیمه ایزه تړونونو مرکز کی د افغان ښځینه و چارو په خپله ترسره کولوپه موخه د یوی خبری ناستی کوربه توب وکړ.

راپور: په افغانستان کی دناټو روزنیز ماموریت د عامه اړیکو متخصص ایلضابط ټمپسون



میسکولا خوئمګل څرګندوی چی دڅه لپاره ما د افغان ښځینه و په هغه کانفرانس کی ګډون وکړ چی ښځینه په خپله د سوداګری چاری پرمخ بوزی.

کابل- د ډیسمبر دمیاشتی به ۱۵ نیټه د سرینا په هوټل کی د ښځو روزګار او په نظامی لیکو کی به ښه توګه د ندو ترسره کولوپه موخه یوه خبری ناسته جوړه کړه. په یا ده ناسته کی افغان ښځینه چی رنګینی جامی او لوپټی یی په ځان کړی وی د نظامی لوجستیکی برخی افسرانو لیکو سره یوځای شوی

د ۱۲۷ څخه زیاتو کسانو په دی دریم کلنی کانفرانس کی ګډون کړی و چی د کابل د سیمه ایزه ترون دفتر(ک ر سی سی) لوخوا جوړ شوی و ترڅو دوی د حکومت و صول او کړنلاری زده کړی او په افغانستان کی د ترونو او د افغانانو لومړی پراګرام په اړه عمومی معلوما ترلاسه کړی.

د ک ار سی سی ریس ویلنګام وینا سره سم ، دا په افغانستان کی د امریکی او ائتلافی ځواکونو لپاره اړینه ده چی ښځینه افغانی کاروکوونکو ته روزنه ورکړی تردوی وکولا یشی چی په ښه توګه خپلی دندی ترسره کړی.

ویلنګام وویل،" کله چی مونږ په مارکیټ کی سالم رقابت ولرو نو کداشی چی دا به د ټولو لپاره یوغښتلی او پیاوړی مارکیټ وی."

که چیری افغان دبلابیلی غوره لاری چاری ولټوی، مشرتوب او بیلا بیلی نظری وګوری نو په باروتوګه مونږ کولای شو چی ددوی د اقتصاد له لاری یو غوره هیواد د پرمختګ په لور روان شو."

د اکتوبر بر دمیاشتی څخه راپدی خوا، ک، ار،سی، سی،۴۶۰ میلونه ډالره په مصرف رسولی دی، او د افغان سیمه ایزه ترونکوونکو بولی د خدت ۷۱ سلنه په د ۹۱۱ ترونونو چاری سرته رسیدلی دی.

د مدیرانو او کنترولونکو د پراختیا لپاره، د هالی میری لوجستیک شرکت یوتنی کیسکولا خوهمګل، لومړی ځل کانفرانس وو چی د امریکی دمتحده ایالاتو د دولت لخوا جوړ شوی و، او هغه ډیره خوشاله وه چی په یاده غونډه کی یی ګډون وکړ او زیات شمیر پښتنو ته ځوابونه وویل شو.

خوئموګل وویل،" هالی ماری زه دی کانفران ته ولیږلم ترڅو د دولت د بولی پراو سره اشنا شم." په افغانستان کی د ښځینه سوادا ګرو شمیر زیات نه دی او دا یوه غوره کار و چی دی پراو سره یوځای شو.. زه نه یواځی د امریکی د متحد ه ایالاتو د پوځی افسرانو په اړه پوشوم مګر د سیماه ایزه ښځینه سوداګرو په اړه هم پو شوم."

په ایساف کی د هوای ځواک یوتن ترونکوونکو د ننداړتون مشر ډګرمن جک جکمن د ناټورڅخه د بولی له لاری دترونونو ترلاسه کولو په موخه ملومات ورکړل.

دا معلومات د هغو معلاتوسره توپیر درلود چی د امریکی دولت دفترونو ته به سپارل کیده، او نوموړی غوښتل چی یاد معلومات بیلابیلو شرکتونوسره شریکی کړی.

جکمن په خپله وینا کی وویل،" مونږ د بولی په هغو اسنادو کی چی د ترون د ترلاسه کولوپه موخه یی مونږ ته دافغانانو لخوا رالیږل کیده جدی ستونزو سره مخامخ و." مونږ ته افغان ترونکوونکو لخو د ۵۰ سلنی څخه زیات اسناد په سمه توګه نه رالیږل کیده چی ځنی ستونزی یی لرلی."

جکمن زیاتوی که څه هم ناټو او ایساف د ښځینه و لپاره ځانګړی ترونونه او پروګرامونه نه لری خو د ښځینه کارکوونکو لخوا زمونږ دفتر ته د ترون د ترلاسه کولو بولی لپاره ډیر درخواستونه راستول شوی.

جکمن وویل، " مونږ هغه کو چی نوی کارو بار لپاره ځانګړی هڅی وکړو."مونږ پدی پوهیدلی یو چی د نوی کسانو لپاره ستونزمن کار د لومړی ځل ترون ترلاسه کول دی.

"ترونکوونکولپاره دی ته اړتیا ده چی په لومړی ترون کی په غوره توګه کار ترسره کړی ترڅو یو خه نوم او باور ترلاسه کړی."

۷۵سلنه دناټو او ایساف د ترونونو او خدتونو ۳۵،۰۰۰ امریکایی ډالر دی چی د افغان لومړی پروګرام لپاره ځانګړی شویدی.

دکانفرانس په بهیر کی ایساف لوجستیک مسول او د امریکی د متحده ایالاتو څخه برید جنرال ایډوارډ دورمان، دافغان لومړی پروګرام په اړه په ژوره توګه خبری اتری وکړی.

دی پروګرام افغان شرکتونو او ترنوکوونکو لپاره ګټور او په زړه پوری معلومات څرګند کړه چی دی کار په ترسره کولوسره افغان کاروکونکو د ننداړتون په مرکزکی د امریکایی او ائتلافی ځواکونو پرځای افغانان ځای پرځای کړل.

د ډیمو رغیز شرکت مرستیالی فاتیمه هکیم زاده د امریکی د متحده ایالاتو نظامی چاروکوسره فعاله ترون لری او دبولی د تازه معلوماتو په اړه یی په بیلا بیلاو کانفرانسونو کی ونډه اخیستی ده.

زاده وویل،" دا مونږ لپاره یوغوره چانس و." ما ددی په اړه ډیرمعلومات ترلاسه کړی چی څنګه د ترون د ترلاسه کولوپه موخه شیشنهاد تسلیم کړی... دا یوه ګټوره غونډه وه."

د زیاتومعلوماتو د ترلاسه کولوپه موخه چی څرنګه افغان شرکتونه وکولایشی چی دامریکی دنظامی او ائتلافی ځواک څخه د ترون د ترلاسه کولوپه موخه د ترون بولی ته خپل پیشنهادات تسلیم کړی دغه ویب پاڼه وګوری. http://www.afghanfirst.org/about.

# افغان ملی پوځ کماندو د ځانګړی جنګی  پوځ سره یوځای شو

راپور: د اېرکو متخصص ایلضابط ټمپسون، په افغانستان کی ناټو روزنیز ماموریت د عامه اړیکو دفتر.


دکابل د مورهیډ په کمپ کی د ۸۰۰ څخه زیاتو افغان کماندو سرتیرو د فراغت مراسمو په بهیر کی خپل تصدیقونه ترلاسه کړل.

کابل- د ډیسمبر دمیاشتی په اتمه نیټه د افغانستان د ملی پوځ د لوی درستیز مرستیال د را رسیدو په وخت کی دافغان ملی پوځ ۸۲۹ کسه د انتظار په حال کی وو، ترڅو په کابل کی  د مور هیډ په کمپ کی د کماندو ۱۵ دور فراغت مراسم پرانیزی.

دیادو مراسموپه بهری کی  د۶۹ افسران، ۱۵۸ خورد ضابطان او ۶۰۲د کماندو ټیټ رتبه سرتیری  د لس اونیزه کورس څخه فارغت په موخه ترسره شول.

د افغان کماندو د لوا قوماندان برید جنرال سید عبدل کریم د نظامی روزنی په اهمیت باندی ټینګار وکړ.

جنرال کریم زیاته کړه ،" روزنی د سرتیرو لپاره ډیری مهمی دی، دا د ژوند لاره ده، نظامی روزونکی باید هغه روزنی عملی کړی کومی چی دوی ترلاسه کړیدی او ددی ښونځی څخه چی تاسی کومی تجربی زده کړیدی دهغوی څخه ګټه واخلی."

د کماندو کورس، کوم چی سرتیری په کی روزل کیږی د افغانستان  په لر او برکی د کماندو د ځانګړی ځواک دپیاده جزاوتامونو یوبرخه ده، چی په لومړی سرکی د افغان کماندو ښوونکو لخوا ورته روزنی ورکول کیږی.

یاد کورس ۹۵ سلنه د افغانانو لخوا پرمخ بیول کیږی.

یوتن افغان دویم برید من عبدالقهار، چی ۱۷ کاله یی دکماندو په پروګرامونوکی تیر کړیدی د یاد کورس د افغان ښوونکو د لارښوونی او سلامشورو څخه مننه وکړه.

.

قهار زیاته کړه،" چی دوی تل مونږ سره مرسته کوی او نن ورځ زه په ویاړ سره وایم چی زه خدمت ترسره کولوته چمتو یم."

دافغان ملی پوځ کماندو روزنی د امریکی دمتحده ایالاتو سرتیروته ورته دی او یادی روزنی افغانستان لپاره دپیاده ځانګړی جنګی ځواک په رامنځته کولوکی ملاتړ کوی ترڅو دوی وکولای شی چی بیلابیلی ځانګړی دندی ترسره کړی.

دغو سختو روزنو یاد سرتیرو ته د وسلو استعمال او نښه ویشتلو پرمختللی او بنسټیزه مهارتونه ورزده کړل، ورو کی دلګی او لوی ټولی تکتیکونه، د ځمکی په سر دنقشی معلومات، داړیکو ټینګول، په بنسټیزه  جګړه کی د روغتیایی مهارتونو استعمال، هوان، د قطارونو بدرګه کولو فعالیتونه او جګړیزه چاری او مهارتونه زده کړل. د ۸۲۹ سرتیرو څخه د یادو مهارتونو د زده کړی څخه وروسته ازموینه واخیستل شوه.

د ملی پوځ د لوی درستیز مرستیال جنرال محمد اکرم دکماندو  او د دوی د اوسنی دندو څخه ستاینه وکړه .

د مراسمو په بهیر کی جنرال اکرم وویل چی ،" ما دکماندو دندو ترسره کونی لیدلی دی. تاسی په کابل کی  د لوی جرګی په بهیر کی غوره دندی  په بریالی توګه ترسره کړی ."

د مراسمو د پای په بهیر کی، زده کوونکو خپل دملی پوځ لباس او نظامی خولی په رسمی توګه د کماندو په لباس بد لی کړی. دلیردونی بهری دا لومړی ځل وو چی ترسره .

قهار وویل،زه خپل هیواد ته خدمت کوم ترڅو د تروریستانو جالی له منځه یوسم، اوس زه کولای شم چی د کماندو یو غړی شم."

په افغانستان کی دناټو روزنیز ماموریت چی د ۳۷ هیوادنو څخه تشکیل شوی دافغانستان داسلامی جمهوری دولت سره مرسته کوی ترڅو افغان ملی امنیتی ځواکونه دی ته چمتو کړی چی د۲۰۱۴ کال ترپایه دامنیتی ټولو چارو مسولیت په غاړه واخلی.

# دافغان ملی پوځ دسهیل سیمه ایزه ملاتړ قوماندانی د ګارنیزون د قطعی ملاتړ کنفرانس په بهیر کی د امنیت لیږدونی پلان جوړول

راپور: امریکی دمتحده ایالاتو د هوای ځواک دسهیل سیمه ایزه ملاتړ قوماندانی
دعامه اړیکو افسره کریستینا نیوټون

دمیک سپان کمپ ، افغانستان- د ډسیمبر دمیاشتی په ۴ نیټه دګارنیزون د قطعی ملاتړ کانفرانس په بهیر کی د ۲۰۹ قول اردو استازو د ائتلافی ځواکونو سره د امنیت لیږدونی چارو په اړه خبری اتری وکړی.

یاد کانفرانس د سهیل د سیمه ایزه ملاتړ قوماندانی لخوا جوړ شوی و ترڅو افغان مشرانو سره دنړیوالو څخه د امنیتی چارو سپارولو په بهیر کی د وسایلو او نورو اړونده شمتنیو د تسلمی په اړه پوهه او مهارت ترلاسه کړی .

دامریکی دمتحده ایالاتو د سهیل د سیمه ایزه ملاتړ قوماندانی دانجینری څانګی مسول روستی رهیډس وویل ، " دیاد کانفرانس موخه داوه چی د ۲۰۹ قول اردو د کارنیزون قطعی چاروا کی له دی څخه خبر کړی چی په نژدی راتلوونکی وخت کی به د اړونده ودانیو او وسایلو مسولیت د دوی په غاړه وی."

د ۲۰۱۴ کال ترپایه د افغانستان څخه د ائتلافی ځواکونو د وروستی نیتی سره سم به د ۲۰۹ قول اردو د شاهین په کمپ کی چی د افغانستان په شمال ختیځه سیمه کی پرته ده د ۱،۰۰۰ څخه زیاتو ودانیو د مسولیت چاری به افغان امنیتی ځواکونه په غاړه واخلی.

یاد کنفرانس د خبرو اترو تسره کولو په موخه غوره چاپریال رامنځته کړی و ترڅو افغان نانو ته د امنیت د سپارلو چارو په اړه زیات معلومات ورکړی او په خپلو ښپو ودریږی او د عملیاتو او څارانی په شمول ټول چاری په خپل ه ترسره کړی.

د ۲۰۹ قول اردو دقوماندان مرستیال برید جنرال امان الله موبین وویل،" دا یو خه کار دی چی مونږ سره راغونډ شو او د بیلا بیلو موضوعاتو په اړه موخبری اتری وکړی." مونږ څنی روښانه بیلګی لرو چی مونږ د خپلو دندو په ترسره کولوکی بریالی یو."

په یادو خبرو اتروکی د افغان ملی پوځ د ودانیو د تسلیمی او نورو چارو او همدارنګه دافغان ملی پوځ افسرانو په اړه بحث شو، چی څنګه د ملی پوځ افسران وکولایشی چی د ودانیو په غوره توګه ساتل او د سرتیرو د دندو او نورو اړونده چارو مسولیت په غاړه واخلی.

روهیدز وویل ،" دګارنیزون لوړرتبه مشران به د افغان ملی پوځ د ټولو ودانونیو مسولیت په غاړه ولری." د یادو ودانیو په ساتلوکی دبرق د تولید، د اوبو سیستم چی اونی او نیالګی تری اوبه کیږی شاملی دی."

د بیلګی په توګه، کله چی د شاهین کمپ ټول چارواکی بشپړ شو نو دیاد کمپ د چارو واکو شمیر به د ۱۲،۰۰۰ څخه تر۱۴،۰۰۰ پوری وی. دا شمیر د امریکی دمتحده ایالاتو یوی غټی سیمی سره ورته دی.

اوس محال، زمونږ موخه داده چی دټولو وسایلو او ودانیو د چارو مسولیت په راتلوونکو شپږ میاشتو کی افغان پوځ ته وسپارو، د ټولو وسایلو د سپارلو چارو محال ویش به د ۲۰۱۳ د بشپړیدو څخه وراندی د ترسره کونی په موخه جوړشوی.

د کانفرانس په بهیر کی د ګارنیزون قوماندانانو دخبرو پرمهال د سهیل سیمها ایزه قوماندانی څخه د امریکی د متحده ایالاتو ډګروال رابین فونتیز وویل،" د امنیت د لیږدونی محال ویش ډیر غښتلی دی."مونږ پوهیږو چی دا کار د لوړو هیلو درلودونکی مګر مونږ ستاسی ترڅنګ ولاړ یو ترڅو تاسی سره مرسته وکړی او ترهغی به له تاسره ولاړ یو ترڅو چی تاسی په خپلو خپو ودریږی."



دفغان ملی پوځ د ۲۰۹ قول اردو قوماندان مرستیال بریدجنرال امان الله موبین ، د ګارنیزون دقطعی ملاتړ کانفرانس په بهیر کی دافغان ملی پوځ ته د امنیت لیږدونی بهیر د اهمیت په اړه څرګندونی وکړی.

کانفرانس د خبرو بهیر د ودانیو د تسلیمی د په اړه بحثونه وکړل ترڅو هغه رسیدونه چی د لیږدونی بهیر لپاره اړین دی له دواوړ خواو څخه لاس لیک شی ترڅو د لیږدونی بهیر تصدیق کړی، هغه وخت به دوی یادی ودانی ترمیم هم کړی کله چی دافغان ملی پوځ شتمنیو په نوم ونومول شوی.

فونتیز زیاته کړه چی د څارنی او مراقبت ودانی د افغان ملی پوځ مورال او صحتمندی لپاره ځوره مهمی دی، او د افغان ملی پوځ په راتلوونکی به خومره اغیزه وکړی.

فونتیز وویل،" دژوند څرنګوالی د سرتیرو په صحت او مورال باندی لویه اغیزه لری،" او دغیرحاضرو سرتیروباندی هم مذبتی اغیزی درلودلی شی، دا په دی باندی هم اغیزه کوی چی د سرتیری په اړه احساس وکړی چی دراتلوونکی لپاره مهمه موضوع کنل کیږی."

یاد کانفرانس څو ساعتونولپاره دوام کړ، پدی کانفرانس کی بیلابیلو کسانو ونډه اخیستی وه او بیلابیلو موضوعاتو په اړه یی خبری اتری وکړی ، مګر خبرو اترو زیاته برخه د افغان ملی پوځ د امنیت لیږدونی د موسولیت په غاړه اخیستلو په اړه وی.

موبین وویل،" چی زمونږ اړیکی به دائتلافی ځواکونوسره دوام ولری، یواځی لړبدلون به رامنځته شی، له نیکه مرغه، ددی کانفرانس موخه داوه چی مونږ د امنیتی چارو مسولیت په غاړه اخلو او ددی کار ترسره کول په افغانستان کی د امنیت لیږدونی لومړی ګامونه دی."

# د څارنې او مراقبت سلاکارانو د لومړي ځل لپاره دافغان هوای ځواک د الوتکو د پرواز دلارښونې په موخه یو لارښوونکې په ورته دنده وګمارل

راپور: افسر همفریز د ۴۳۸ هوای مفرزې د عامه اړیکو دفتر

کابل، افغانستان- دڅارنې او مراقبت سلاکارانو پدې ورستیوکې د کندهار په هوای مفرزه کې دلومړي ځل لپاره د هوای ځواک دپروازونو د هوای کرښې د لارښوونې په موخه لارښوونکې په کار واچول.
د څارنې او مراقبت قوماندان دهوای کرښې لپاره یو تن لارښوونکې په دنده وګمارل چې هغه به د څارنې، مراقبت او نورو اړونده کارکوونکوپه ګډې هوکړې سره د الوتکو مهال ویش جوړوي ترڅو دوی وکولای شي چې په غوره توګه اړونده دندې ترسره کړي.

نوموړو سلاکارانو جوته کړه چې نوی وړتیاوی به په خپل وخت د پروازونو ترسره کیدل اویوه غوره اداره به ددې ډاډ ترلاسه کړي چې دپروازونو ټولې چارې په ښه توګه ترسر شي او د دا کار به د ګډو هڅو یوالی به هم رامنځته کړي.
د ۷۳۸ هوای مفرزې ډلې یوتن کارل سنیدر وویل» د الوتکو لارښوونکو په درلودلوسره د مشرتوب دیوی برخې نماینده ګی کوی، لا تراوسه پورې د کنټرول سپارل یوه اندیښنه ده. «دا د نوو افسرانو لپاره یوه غوره تجربه وه د لومړي ځل لپاره ترسره شوه. سلاکارانو هغه مهارتونه او تجربې دافغان هوای ځواک لپاره ډیرې ګټوری او اړینې وبللې ترڅو دوی وکولای شي چې خپلې دندې به ښه توګه ترسره کړي، او همدارنګه د مسولیت په غاړه اخیستل د مشرتوب د چارو ترلاسه کولو یوه برخه ده. «



افسر شکرالله د کندهار په هوای ډګر کې د څارنې او مراقبت په موخه هوای ځواک سره د مرستې پرمهال

دهوای کرښې د روزنې بهیر د لارښوونکې لخوا هغه وخت پیل شو چې کله د څارنې او مراقبت سلاکارانو د لومړي ځل لپاره د افغان هوای ځواک قوماندانوسره وکتل او دوی ته یې د نوی دندې ګټې څرګندې کړې چې یاده دنده به په هوای دندو په ترسره کولو او پیاوړې کولوکې مرسته وکړي.
دافغان هوای ځواک قوماندانانو یادې دندې په رامنځته کولو په موخه هوکړه وکړه او لومړي بریدمن شکرالله چې دوه اونۍ یې په روزنه کې تیرې کړې وې وګمارل چې هغه به الوتکو د راپور او څارنې او مراقبت دتجربو او مهارتونو په درلودلوسره لومړیتوب ورکړل شو.
سیندرروویل،" مونږ هڅه کوو چې نه یواځې وړتیاوې رامنځته کوو بلکې د افغان هوای ځواک په لیکوکې پراختیا هم رامنځته کوو. مونږ نه غواړو چې یواځې دوی د الوتکو ترمیمول او پروازونو لارې چې ترسره کړي بلکې مونږ غواړو چې دهوای ځواک لیکوته پراختیا ورکړو ترڅو وکولای شي چې ټول پروازونه او نورې اړونده دندې په غوره توګه ترسره کړي."

تیره اونۍ، د کندهار په هوای مفرزه کې د هوای ځواک د څارنې او مراقبت پروفیسرانو د ائتلافي سلاکارانو په ملاتړ، دافغان هوای ځواک چاروا‌کو د پروازونو د کتنې روزنې پیل کړې ، ترڅوی افغان هوای ځواک زیات مهارتونه او تجربې ترلاسه کړي.
سیندر زتاتوی چې د الوتکو دلارښوونکو په درلودلوسره د الوتکو د کتنې او ماینې وړتیاوی پراختیا و مومي،دغه کار به د څارنې او مراقبت فعالیتونو ته پراختیا ورکړي چې تیره میاشت ۱۱ سلنه او د سپتمبر په میاشت کې یکې ۳۵ سلنه زیاتولی رامنځته شوی.
سیندر وویل، « مونږ دڅارنې او مراقبت چارو پراختیاته دوام ورکوو، زمونږ افغان ملګری هوای ځواک زیار باسي چې سختې دندې ترسره کړي او زه د دوی په هڅو ویاړم. مونږ به تر هغې پورې خپلو دندو او هڅو ته دوام ورکړ ترڅو چې افغان هوای ځواک په خپلو پښو ودریږي.

# افغان ملی اردو سرتیرو په سیمه ایزه سیموکی د نظامی عملیاتو په موخه روزنی ترسره کوی.

راپور: دهوای ځواک افسر سهارا مارتینز
په افغانستان کی دناټو روزنیز ماموریت د ختیځه سیمه ایزه ملاتړ قوماندانی دعامه اړیکو متخصص


د گردیز د سیمه ایزه نظامی روزنیز مرکزد ۲۰۳ قول اردو افغان ملی پوځ سرتیری دی ته چمتودی چی د نظامی عملیاتو په بهیر کی په غوره توگه دشکمنو ودانیو تلاشی وکړی.

گردیز، افغانستان- د ډیسمبر دمیاشتی په ۳۰ نیته د ۲۰۳ قول ا ردو ۱۶ سرتیرو د گردیز په سیمه ایزه نظامی روزنیز مرکزکی دسیمه ایزه روزنی د ترلاسه کولو په موخه نظامی عملیات په لاره واچول .

سیمه ایزه سیموکی د نظامی عملیاتو په موخه روزنی د ښوونکو دروزنی د دری اونیزه کورس یوه برخه وه ترڅو دوی هغه مهارتونه زده کړی چی کله د دښمن شکمنو ودانیو ته دتلاشی لپاره په ماهرانه ډول داخلیږی.

د روزنی په بهیر کی دافغان ملی پوځ سرتیری، زیاتره خوردضابطان په ماهرانه توکه د ودانیو دروازی خلاصی کړی ترڅو د ودانیو خونی چن او اړونده سمی تلاشی کړی.

د امریکی د متحده ایالاتو د روزنی سلاکار پیټر کیچین وویل، " دسرتیرو د سیمه ایزه بنستیزه روزنی څخه وروسته به دوی وکولای شی دوی د ټیم مشری روزنی کورس ته ولاړ شی ترڅو دوی وکولای شی ښوونکی وروزی، ددی روزنو بشپړولو څخه وروسته به دوی وړ او مهارت لرونکي ښوونکی وی."

زیاتره وخت، د ودانیو د تلاشی روزنو مشق په داخل کی ترسره کیده مگر ۱۶ سرتیرولپاره ورته روزنو کی لږ توپیردرلود. دافغان ملی پوځ سرتیری په ۶ ډلو ویشل شول او هری ډلی په خپل وار سره عملی کار ترسره کړه، دوی د ودانیو د تلاشی په موخه د ساده لاربښونی څخه کار واخیست.

کلچین وویل،" هغه ودانی چی مونږ د روزنی په بهیر کی تری کار اخلو دښمنو کور په نوم نومولی ترڅو ښوونکی وکولای شی چی دسرتیرو کړنی وکوری، همدارنگه نورو سرتیرو خپل وار ته دانتظار په حال کی و ترڅو ډاډترلاسه کړی چی باید وکړو او څه باید ونه کړو."

ددری اونی کورس په بهری کی ، سرتیرو د نقشی لوستل، دمخابری له لاری اړیکی ټینگول او د وسلو خلاصول او تړل زده کړل.

د ۲۰۳ نمبر قول اردو یو تن ښوونکی نادرشا وویل،" دا روزنی مهمی دی، ددی تخنیکونو اورزونوڅخه به دوی په هغه ځای کی کار واخلی چی کله شکمنو ودانیوته دشکمنو کسانو د تلاشی په موخه ننوزی ."

د ښوونکو د روزنی کورس د ستراتژی یوه برخه ده چی ډیر افغان ښوونکی وروز ترڅو د امنیت د لیږدونی پروسه اسانه کړی او افغان په خپله دافغان کنټرولولو چاری په غاړه واخلی.

کولچین وویل،" دا ډول کورسونه د گټوری روزنی او ښوونکی رامنځته کوی ترڅو افغانان وکولای شی چی د ټولگی د تدریس چاری په خپله پرمخ بوزی."

د گردیز د سیمه ایزه نظامی روزنیز مرکزسلاکاران نه یواځی د افغان ملی اردو د ښوونکی ته روزنه ورکوی بلکی دوی د ټولو روزنیزه کورسونو په برخه کی مرسته کوی چی د افغانانو لخوا یی چاری ترسره شی. د افغان ملی پوځ چارواکی به په خپله د بیلا بیلو گرځنده زغره والو نقلیه وسیلو راتلوونکی کورس هم ترسره کړی او همدارنگه دوه هغه کورسونه چی په نژدی راتلوونکی کی به پیل شی.

# د بریدملانو پیاده جګړیزه کورس

راپور: پول هوګز
په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت دسهیل دسیمه ایزه ملاتړ قوماندانی د عامه اړیکو دفتر

کندهار، افغانستان- دافغان ملی پوځ ۳۵ بریدملان د جمنظام په موخه د اندیښنی سره خپل نوبت ته د انتظار په حال کی و ترڅو دوی یاد مشق او تمرین ترسره کړی.
په سیمه ایزه نظامی روزنیزمرکز کی د بریدملانو جګړیزه پیاده کورس یو نوی کورس دی. دیا د کورس ټول روزونکی افغانان دی .
د سیمه ایزه نظامی روزنیزمرکز لپاره د امریکی دسمندری ځواک سلاکار وویل،" مونږ هڅه کوو چی په بنسټیزه توګه افغان روزونکی وروزو ترڅو دوی وکولای شی چی ټولی چاری په خپله په غاړه واخلی او بیلابیلو کورسونو کی د روزنی ورتیا ولری "
مونږ افغانانو سره په بنسټیزه توګه مرسته کوو ترڅو دوی وکولای شی چی په خپلو ښپو ودریږی."
دافغان ملی پوځ دوه تنه بریدملانو د مشق د ترسره کونی په موخه د دښمن په څیر وټاکل شو ترڅو نور سرتیری ا وچاړواکی دا زده کړی چی څرنګه دښمن سره مقابله وکړی .
کوویل وویل،" دروزونکو مشر او نور ټول روزونکی په غوره مهارتونو او تجربو سمبال دی."
سرتیری په ډیر دقت او درستوالی سره دښمنان له منځه وړی .
د افغان ملی پوځ دروزنکو مشر افسر حفیظ الله عظیمی وویل،" مونږ ترهغه اندازی پوری خپلو هڅو ته دوام ورکو څومره چی مونږ کولای شی ."
کویول ټینګار وکړ چی ښوونکو دا زده کړل چی څرنګه دتوکی د ساتلو او په اړه یی زده کوونکوته معلوماتو لیږل ترسره کړی.
عظیمی وویل، " دوی په تدریسی چارو کی اوس کومی مرستی ته اړتیا نه لری. ددوی د پیاده تکتیکونو په اړه په بنسټیزه توګه پوهیږی." کویل وای چی د امریکی دمتحده ایالاتود سمندری ځواک محدود دی."
عظیمی وویل،" مونږ د امریکی د متحده ایالاتو سمندری ځواک سره نژدی اړیکی لرو." کله چی زمونږ کوم شی ته اړتیا پیښه شی دوی راته برابروی." د بریدملانو ټول کورسونه د کندهار د هیرو کمپ څخه د باندی د ۲۰۵ نمبر قول اردو یوه برخه ده ."
اته اونیزه کورس د دوه اونیو سواد زده کړی په سختو روزنو سره پیل شوی. زده کوونکو نوری شپږ اونی په پیاده تکتیکی پرمختللی روزنی،تخنیک او متودنه لګه ګزمی د تلاشیو په ترسره کولو په زده کړه باندی تیری کړی.
کویول وویل،" دا غوره کار دی چی مونږ دامنیتی ځواکونو په پراختیا کی مرسته کو کله چی دوی ته مونږ ټول تکتیکون او تخنیکونه ور زده کړل نو ددی څخه وروسته دوی کولای شی په خپله ټولی لاری چاری زده کړی."



دکندهار په سیمه ایزه نظامی روزنیز مرکزی کی د ۲۰۵ قول اردو بریدملان دبریدملانو د پیاده روزنی د مشق په موخه د ام ۱۶ ټوله وسلی د نښی وشیتول پرمهال .

# دافغانانو لخوا د ترسره شوو عملیاتو په بهیرکی دوسلو زیرمه او اسیران ونیول شو

راپور: اندریه میریت

دافغانستان پکتیکا ولایت- دافغان ملی امنیتی ځواکونو هغه مهال ویش چی د افغان ځواکونو د عملیاتو مشری په غاړه واخلی، ددی پسرلی عملیات چی د توفان په نوم نومول شوی دی دوی له خوا ترسره شول ډیر بریالی وو، یاد عملیات چی د توفان په نوم یادیږی دا جوته کړه چی افغان ځواکونه چی دپکتیکا په ولایت کی میشت دی ددی وړتیالری چی په خپله له ځان څخه دفاع وکړی.

دهغه عملیاتو به بهیر کی چی د نومبر دمیاشتی په ۳۰ نیته دافغان امنیتی ځواکونو لخوا ترسره شول، دامریکی د متحده ایالاتو پوځ مرسته پکی کمه وه چی په پایله کی یی د یوڅه اندازه وسلی، شکمن اورپکی ونیول او دوه تروریستان یی وژل.



عکس : سربازان اردوی ملی افغان مهمات کشف شده را در نزدیک قریه قره خیل به نمایش گذاشته اند.

دامریکی دمتحده ایالاتو د ۳ کنډک د ۶۶ زغره وال غونډ چی دافغان ملی پوځ د ۶ کنډک د امنیت لیږدونی ډلی سلاکار یوتن پوځی افسر رابرت ګګنون وویل، " نن ورځ دپکتیکا خلک په نظامی ځواکونو باندی وياړی."

ګګنون وویل،" نن ورځ ددی شاهده وه چی افغان امنیتی ځواکونه په راتلوونکی پسرلی کی د عملیاتو مسولیت مشری په غاړه واخلی. پدی اړه افغان ملی امنیتی ځواکونو په ډاګه کړه چی ګواکی دوی کولای شی چی د کنډکونو په کچه پرته د امریکی دمتحده ایالاتو له مرستی څخه عملیات ترسره کړی . "

د استخباراتی معلوماتو د ترلاسه کولو څخه وروسته چی د هیواد دښمنانو په یاد ولایت کی ناچاودیدونکی توکی ځای پرځای کول، دملی پوځ او افغان یونفورم پولیسو پلان له مخی دیاد ولایت په دوه کلیو کی عملیات پیل او سیمه یی معاصره کړه.

په یادو عملیاتوکی د امریکی دمتحده ایالاتو پوځ څخه د هوای وسلو د ډلی څخه غوښتنه شوی وه. دامریکی متحده ایالاتود ۶۶ غونډ د دریم کنډک دسکاټ ټولی سرتیرو همدارنګه د افغان ملی امنیتی ځواکونو سره د یادو عملیاتو په ترسره کونه کی له افغان ځواک سره سلامشورو او درول په ترسره کولوکی مرسته کړی وه.

یواځی دیوی ورځی رخصتی څخه مخکی، افغان امنیتی ځواکونه قلات ته نژدی د قره خیلو په کلی کی تلاشی پیل کړه چی د دوه تنه د پیښی د ځای څخه په تیښته بریالی شو.

دهوای وسلو ډلی کسان هغه وخت به نښه کړل چی کله دوی دوی په پټیو کی د تګ په حال کی وو، او دوی هڅه کوله چی یو خالی ځای ته ولاړ شی او وتښتی.

هوای ځواک پدی بریالی شو چی هغه وده تنه دښمنان مړه کړی. یادو کسانو سره کلاشینکوف، باروت، لاسی بمونه او د بمونو جوړولو توکی هم ورسره وو.

دامریکی دمتحده ایالاتو پوځیانو سیمه کلابنده کړه او افغان ځواکونو خپلو عملیاتو ته دوام ورکړ چی په ترځ کی یی د وسلو زیرمو د راکټ مرمی، لاسی بمونه او چاودیدونکو توکو مهات شامل وو.

افغان امنیتی ځواکونو په سیمه کی روان شو او چی د دښمنانو لخوا د وړو ډزو مقابلی سره مخا مخ شو. افغان امنیتی ځواکونو هم به ډزو پیل وکړ چی په پایله کی یی شکمن کسان ونیول. د جګړی پرمهال کومه مرګ ژوبله نه ده رامنځته شوی.

د د ۶ کنډک افسر عبدالغفارچی دیادو عملیاتو پلان یی جوکړی وو وویل،" زه ډیر خوشاله یم افغان ملی پوځ او ملی پولیسو ډیره ښه دنده ترسره کړ. دوی وکولای شول چی دښمن معاصره کړی او وسلی یی هم ترلاسه کړی."

د لمر د لویدو په وخت کی عملیات پای ته ورسیده، مګر یو نوی فصل دافغانانو لپاره خلاصه شوه ددی دندوترسره کولو په ډاګه کړه چی افغانان کولایشی چی دخپل هیواد او خلکو څخه دفاع وکړی.

د امریکی دمتحده ایالاتو ۶۶ زغروال غنډ دریم کنډک قوماندان سم راسنبرج وویل،" دافغانانو لخوا د افغانانو ستونزی حل شوی." دوی پدیو وتوانیدل چی د عملیاتو ترسره کولو څخه وړاندی معلومات ترلاسه کړی او دکنډک په کچه عملیات ترسره کړی."

مایرس وویل،" دوی ددی وړتیالری چی کله دوی کلیوالو سیموته د عملیاتو د ترسره کولوپه موخه خپل ملګری د دندو ترسره کونو ته په لاره واچوی. دوی غوره دننده ترسره کړی.

# د ګردیز د ښار د غاښوکلنیک ډاکټرانو بهرینو سلاکارانو راتګ ته ښه راغلاست وویل

راپور: د هوای ځواک افسره سهارا مارټینز
د ختیځ زون د سیمه ایزه ملاتړ قوماندانی دعامه اړیکو دفتر



دپکتیا سیمه ایزه نظامی روغتون کی د امریکی دهوای ځواک افسره کورتنی شپیره چی یاد روغتون سره د غاښودرملنی په موخه د سلاکاری په توګه دنده ترسره کوی ، د ګردیز په ښار کی دیو ناروغ درملنی پرمهال ترسترګوکیږی.

ګردیز، افغانستان- د پکتیا ولایت د ګردیز نظامی سیمه ایزه روغتون د ری تنه ډاکټران د امریکی دمتحده ایالاو د هوای ځواک افسری کورتنی شپیره چیی یاد کلنیک لپاره لومړی سلاکار ه د. ډیر خوش دی .

شپیره د د روغتیایی ډلی یو غړی دی چی د د برښنا په نوم مرکز کی موقعت لری . یاده ډله کی بیلا بیل سلاکاران شامل دی چی د د روغتون په بلابیلو برخو کی کار کوی لکه دسترګو څانګه او نرسنګ مګر شپیره لومړی کس دی چی د غاښو په برخه کی یی په یاد روغتون کی په فعالیت پیل وکړ.

دوست محمد د غاښو ډکترانو مشر وویل،" کله چی موږ د یاد سلاکار د راتګ څخه خبر شو نو ډیر خوښ شو." مونږ ددی مرستی څخه مننه کوو او هغه به مونږ ته هغه څه نوموړی زده دی مونږ ته رازده کړی."

د غاښو کلنیک ته د ورځی څه ناخه ۲۰ کسان د درملنی لپاره راځی. هغه ناروغی چی اکثره وخت یی ډاکټران درملنه کوی د غاښ تیز دردونه، د غاښ سوری او پرسوب دی.

شپیره وویل، " کله چی زه لومړی دلته راغلم نو د فشار لاندی وم، ډیرکارونه و چی زه یی سم کړم." زه باید په یاد ولرم چی کارونه په اسانی او په بنستیزه توګه پیل کړم ځکه چی کله زه له دی ځای څخه ځم نو دوی به وکولایشی چی ټولی دندی په خپله ترسره کړی."

شپره دکار لومړیتوب یاد کلنیک لپاره ټول توکی او وسایل منظموی. نوموړی غواړی چی کوم وسایل دوی لری او کوم نه لری ترڅو هغه وکولای شی چی هرڅه ته چی دوی اړتیالری په منظمه توګه یو پشنهاد جوړکړی.

نوموړی زیاته کړه،" زما غښوتنه داده چی دوی دغاښنو درملنی نوی سیستم سره اشنا شی." زه باید هڅه وکړم چی له دی سره مرسته وکړم او هغه وسایل چی دوی ورته اړتیالری برابر کړم چی ترڅودوی وکولای شی چی خپلی دندی په غوره توګه ترسره کړی."

اوس مهال، شپیره او ناصر، دغاښو مرستندویه ډاکټران دی په ګډه سره کار کوی چی د درملنی خونی د پاکولو باندی پیل وکړی. خونه د درملو بکسونو څخه ډکه ده، څنی بکسونه باندی مارکی شته دی او څنی یی نه لری مګر د بی نظمی کومه ستونزه نشته، دوی پریکړه وکړه چی یادی دندی په غوره توګه ترسره کړی.

شپیری وویل، " ناصر لیوال دی چی زده کړه وکړی شپیره د ناصرڅخه پښتنه وکړی چی څی شی ته اړتیالری . دغاښو ډاکټران دلته په غوره توګه کار کوی. زه غواړم چی هغه ټولی چاری په ښه توګه زده کړی چی کله زما دنده پای ته رسیږی هغه وکولای شی چی ټولی چار په خپله غاړه واخلی."

کله چی د وسایلو خونه منظمه شوهو شپیره به پدی وتوانیږی چی خپله موخی ترلاسه کړی، اودناروغیو کنټرول او مخنیوی وکړی.

شپیره وویل،" د توکی څخه کتنه وکړه، زه به پدی پوشم چی کوم توکی چی له کاره وتلی لمنځه یوسو، نوموړی یو ماشین رواړی چی هغی له لاری به ټول له کار وتلی توکی او درمل له منځه یوسی.

شپیره شپږ میاشتی وخت لری چی د افغان ملګرو سره په یاد کلنیک کی کار وکړی مګر نوموړی هیله لری چی کله نومړی دنده پای ته ورسیږی نو بله سلاکاره به دوی سره په کار پیل وکړی.

د شخصی کلنیک یوتن مسول ډاکټر وویل،" چی نوموړی لومړی سلاکاره ده. مګر زه هیله لرم چی کله د نوموړی دندی پای ته ورسیده نو چی ددی پرځای بله سلاکار زمونږ سره کار وکړی." مونږ دهغی مرستی ته اړتیالرو، په ځانګړی توګه د توکی او د روزنی په برخه کی."

لکه څنګه چی ۲۰۱۲ کال په تیزی سره راورسیده، د پکتیا ولایت سیمه ایزه نظامی روغتون یواځی دوه کال وخت لری چی په خپلوځښپو ودریږی هغه علم چی شپرا په خیر د نورو سلاکارانو څخه زده کړی.

# افغان ملی پوځ سرتیری دخیمو درولو بنستیزه روزنی زده کوی

راپور: دهوای ځواک افسره کریستنا نیوټان

په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت د سهیل ملاتړ قوماندانی د عامه اړیکو دفتر

کمپ میک سپن، افغانستان- د نومومبر دمیاشتی په ۲۳ نیټه د افغان ملی پوځ سرتیرو د افغان ملی پوځ مزارشریف ته نژدی د شاهین په کمپ کی د انجنیری په ښوونځی کی د خیمو درولو روزنی زده کړی..

د ۴۰۰ څخه زیاتو زده کوونکو د ائتلافی ځواکونو په مرسته او سلا مشوری د انجنرانو سرتیرو غوره او پرمختللی تجربی او مهارتونه زده کړل .

د جرمنی پوځ یو تن افسر چی د عملیاتو او سلاکارنو ډلی غړی دی وویل،" مونږ پریکړه وکړه چی دا یوه غوره نظریه وه چی افغان سرتیرو وکولایشو چی په خپله د خیمو درلو تخنیکونه زده کړل." دا دافغانانو او ائتلافی ځواکونو ترمنځ ګډی هڅی دی ترڅو دوی وکولای شی چی یو څه زده کړی چی په راتلوونکی کی دوی به خپله یادی دندی ترسره کړی ".

ددی پروژی موخه داه وچی شل خیمی ودروی ترڅو کمپ ته پراختیا ورکړی چی په هره خیمه کی د برق او د ایرکنډیشن سیستمونه هم جوړ کړی .

د نومبر د میاشتی په لومړی نیټه یاده پروژه پیل شوه ترڅو په یاد کمپ کی د خیمو درلو او د ځای دپراخولو چاری پرمخ بوزی او په یاد کمپ کی دسرتیرو د اسانتیا په موخه مناسبه ځای رامنځته کړی .

کله چی ټولی چاری سره ته ورسیدی او خیمی ودرول شوی، نو سرتیری به د برق په د جوړولو باندی کار پیل کړی چی د برق لینونه ټول په سمه توګه جوړکړی او دوه نوی جنراتورونه به هم فعا کړی چی یاد کمپ ته به برق ورکړی .

که څه هم د امریکی دمتحده ایالاتو سرتیری د جوړونو چارو مشری په غاړه لری، افغان سرتیری له دوی سره کار کوی ترڅو دوی یادی چاری زده کړی او په راتلوونکی کی دوی پرته له بهرنیانو له مرستی څخه خپلی ټولی چاری پرمخ بوزی .

د ۲۳۶ امریکای کمپنی د دلګی مشر افسر رابرټ کولټ وویل،" زمونږ زیات شمیر چارواکی د درنو وسایلو چاری پرمخ بیایی." پدی پروسه کی دوی د رغونی بنستیزه زده کړی ترسره کوی ."



افغان ملی پوځ سرتیری د مزار شریف ته نژدی د شاهین په کمپ کی د خیمو دامنیت د خوندیتوب پرمهال

د افغان ملی پوځ شل تنه سرتیری د انجنیری روزنیز ښوونځی کی شامل شوی چی هغه معلوماتو مهارتونه او تجربی چی د ائتلافی ځواکونو زده دی له دوی سره شریکی کړی او په یاد مهارتونو یی سمبال کړی .

د ۲۳۶ امریکی یی انجنری کمنپنی یوتن نجار میکل مارتیز وویل،" د افغان ملی پوځ سرتیری لیوال دی چی زده کړه وکړی." دوی په چټکی سره هغه څه زده کوی چی مونږ یی دوی ته ورښایو."

افغان ملی پوځ چار واکی به پروژه باندی کار کوی او ډیر خوښ دی چی په چټکی سره یی د کمپ په سمیه کی پراختیا رامنځته کړه .

دافغان ملی پوځ یوتن چارواکی وویل،" زه ډیر خوشاله یم چی ځنګه مونږ وکولای شو چی خیمی ودرو اوزر کار اخیستلو ته چمتوشی. زه پدی ویاړم چی هره ورځ نوی تجربی زده کوم ."



# د ترکي هیوا په اړه لنډ معلومات



نفوس: ۷۸,۷۸۵,۵٤۸

دولت:
دولسواکی پارلمانی جمهوری دولت

پلازمنه: انقره

ملی ترانه: استقلات مارسی

ملی رخصتی: د اکتوبر دمیاشتی ۲۹

د ترکي جمهو ری دولت مرستو افغان ملی امنیتی ځواکونو د پیاوړی کولو یوه لویه لاسته روارنه او ویاړ دی.

په دافغانستان کی دناټو روزنیزماموریت په چوکاټ کی ترکیه یو مسلمان او لوی هیواد دی ، ترکیه په دواړو مانوی او فزیکی پلوه په نظامی چارو کی غښتلی هیواد دی چی ۹۰ کاله وړاندی د مصتفا کمال اتاتورک لخوا رامنځته شوی چی لاتراوسه د یاد هیواد نور چاړواکی هم تری ګټه اخلی.

د ترکی هیواد نظامی مرستی د کابل ښار د غازی کمپ کی د بریدملانو په ښوونځی کی افغان ملی امنیتی ځواکونوته روزنی ورکوی او یو پیاوړی او غښتلی پوځ روزی. باخبره اوسی چی غښتلی بریدملان د مسلکی نظامی ځواک دملاتیر په خیر دی، دبریلانو په ښوونځی کی د ترکی هیواد ۲۷ تنه افسران هره ورځ د افغان ملی پوځ قدرونو سره په یاد ښوونځی کی روزنی ورکوی. په یاد ښوونځی کی د روزنو ترسره کول د افغان ملی پوځ د راتلوونکی لپاره ډیری مهمی دی ، همدرانګه کله چی دوی د یاد ښوونځی څخه فارغ شی نو دوی کولایشی چی په خپلو اړونده قطعاتوکی ښه ډول دندی ترسره کړی او د یوه غوره مشر او لارښوونکی په توګه خپلی دندی ترسره کونی ته دوام ورکړی. دغازی په کمپ کی د د ترکی هیواد نظامی ښوونکی او سلاکاران چی د یو ترکی پوځی ډګروال نظامتین چی د ترکی د نظامی اکاډمی قوماندان او یوتن افغان پوځی روزونکی چی د یادی اکاډمی سرپرقمشر قدمدار عبدالرحیم هیمتی په ګډه سره د پوځی روزونو چاری پرمخ بیایی.

په یاده اکاډمی کی دترکی هیواد څخه ۲۷ تنه او ٤۷ تنه افغان روزنکی په رزونو ورکولوبوخت دی. د بریدملانو اکاډمی په عادی ډول ٤۵۰ زده کوونکی لری، مګر یاده اکاډمی په یووخت کی د ۹۰۰ تنوزده کوونکو د روزنی وړتیالری. هغه نوماندان چی اکاډمی ته راځی د بیلا بیلو مرکزونو څخه وی چی د بریدملی د قدر د وړتیا په موخه له وړاندی ازموېل شوی وی. کله چی دوی داخله وکړی نو، دوی په بیلابیلو مسلکونوکی مهارتونه زده کوی لکه د ناچاودیدونکو توکو خونساکول، پیاده او نظامی پولیس په برخه کی مهارتونه زده کوی.

دترکی هیواد په افغانستان کی نه یواځی د بریدملانو په اکاډمی کی دافغان ملی پوځ په روزنه کی مرسته کوی بلکی د ناټوروزنیز ماموریت په چوکاټ دافغان ملی پوځ د ملسکی زده کړی په بیلابیلو برخوکی مرسته کوی لکه، ملی نظامی اکاډمی،دافسرانو عالی کورس، دعملیاتو دقومندانیت، ټیټ رتبه افسران او د کابل نظامی عالی لیسی په شمول دافغان چاروواکوسره په مرسته بوخت دی. ددی ترڅنګ، ترکی هیواد په کابل نظامی روزنیزمرکز کی زیات شمیر ښوونکی په کار بوخت دی چی هلته دوی د افسری روزنی، ډریوری ا و دګارنیزون مرستوندویه چاری پرمخ وړی.

دترکی هیواد په خپلو ژمنو ولاړ دی او هیله لری چی ډیر زر به د افغان د پولو ۳۵ تنه پولیسو روزونکی د افغانستان په شمال د شبرغان په ولایت کی ورزوی ترڅو افغان امنیتی ځواک غښتلی او پیاوړ شی.

د جغرافیایی اړخه د ترکی هیواد په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت نژدی غړی هیواد دی چی دا دسیه ایزه ملګرو له ډلی څخه یو غښلی او کلک ملګری دی چی د دافغانستان په راتلوونکی باندی مثبته اغیزه وکړی. د ترکی هیواد په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت په چوکاټ کی د ۱۲۷ تنو په شمول ۱،۸۰۰ څخه زیات پوځیان په ایساف کی کار وی، دوی زیاتره پیسی د افغان ملی پوځ په روزنه کی لږوی چی دا کار ددی ځرګندوی دی چی افغان ځواکونه به پدی وتوانیږی چی ټولی امنیتی چاری په خپله ترسره کړی.

# په جنوب ختیځ افغانستان کی د ارپکو پرو وړاندی دمبارزی روزنی افغانانولخوا ترسره شوی.

راپور: افسر پاول هوګز
په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت د سهیل دسیمه ایزه ملاتړ قوماندانی دعامه اړیکو دفتر

ترین کوټ، افغانستان- یوځو تنه افغان ملی پولیس د یوی خونی ترمخه ولاړی دی. ددی ټولو په غاړه کی په پښتو، دری او انګلیسو ژبو لیکوشوی نښی نښانی زوړندی وی .
په یادو پولیسو کی یوتن د ملی پولیس په نوم، بل تن د ائتلافی ځواکونو او بل یی د قومی مشر په نوم نومول شوی و چی په پښتو، دری او انګلیسو ژبو لیکوشوی نښو نښانو تری بیلابیل کسان جوړی کړی وی .
د د ارپکو پرو وړاندی دمبارزی روزنو مشق چی په نښو نښانو سره ترسره شو، دافغانان روزونکلی چی د ګرځند روزنیزی ډلی متخصیصن وو ترسره شو.

د استرالیا هیواد دیوپوځی غنډ ځخه چی د په سهیل کی د ګرځنده روزنیزی ډلی سلاکار افسرجمز کودرت وویل، " د ګرځنده روزنیزی ډلی عملی مشق او ګټور متودونه ترسره کړل ترڅو افغان ملی امنتی ځواکونه غوره روزنی ترلاسه کړی او په زیاته کچه پرمختګ وکړی ترڅو دوی په خپلو خپو ودریږی."
نوموړی زیاته کړه چی زموږ د ټولګیو موخه د افغانانو لپاره د ارپکو پروړاندی د مبارزی روزنه ده چی دوی په عملی او فزیکی بڼه د سنریو له لاری ترسره کړی.
سنریو داسی ترحه شوی چی دوی پوی شی چی دښمن څوک دی، هغه لامیلیونه چی د شورش مشری کوی، دادی چی څنګه دخلکو ملاتړ ترلاسه کړی، چی څنګه افغان امنیتی چارواک یاو دولت کولای شی چی د دښمن پروړاندی مبارزه وکړی.
او پدی هم باید پو شو چی څنګه دښمن د خلکو ملاتړ ترلاسه کوی.
ائتلافی ځواکونه او ملکی چاروکی سلامشوری او لارښوونی برابروی مګر افغان ملی امنیتی ځواکونه د کروسونو تدریسی چاری پرمخ بیایی.

کولترت وویل، " بنستیزه ټنګار اوس په امنیت انتقال باندی دی."
کله چی دافغان ملی پوځ روزونکی ډګروال عبدالرحیم خپلو ملګرو ته تدریس ورکاوه، هغه زیات شمیر کسانو ته د روزنه ورکوله .
.
رحیم زیاته کړه ،" چی زه خوشاله یم ټول مشران به سرتیرو ته د ښمن پروړاندی د مبارزی روزنی ورکړی."
کولترت وای رحیم او د ملی پوځ بل ښوونکی، تورن عبدلملفوز په رښتنی ډول په ځان باوری دی چی پرته له مرستی سرتیروته درسی مواد برابرکړی.
کولترت وویل، " یادی روزنی افغانانو لپاره ډیر ګټوری دی." ټولی روزنی پرته د یو څو ځمونو ځخه چی د موضوع د متخصیصینو لخوا ځرګندی شوی وی، نوری ټولی روزنی دافغانانو لخوا ترسره شوی.
یادی رونی زده کوونکی اړتیاو سره سمی ترسره شوی او د هغه ځلور ورځینی کورسونو ځخه یی توپیر درلود چی د دښمن پرواندی دمبارزی لپاره په بنستیزه توګه په لاره اچول شوی و.




دکندهار ولایت په سیمه ایزه روزنیز مرکز کی دافغان پوځی روزونکی دترورزیم پروړاندی دمبارزی زده کوونکوته د روزنی پرمهال .

کولترت وویل، " په ځمونی ډول، یادی ډلی یوه نیمه ورځ د دښمن پروړاندی د مبارزی بنستیزه کورس چی د سرتیرو، پولیسو او نورو ټیټ رتبه مشرانولپاره جوړشوی و موخه یی داوه چی افغان ملی امنیتی ځواکونه د دښمن پروړاندی مبارزی دمعرفت ژبه، د دښمن پروړماندی دمبارزی نظریات او ملسکی ځیرنی ، په چاپریال کی د عملیاتو باندی پوهیدل او د دښمن پروړاندی مبارزی په اړه غوره او ګټور معلومات ترلاسه کړی."
یادی ډلی ټولی روزنی دسهیل په سمیه ایزه ملاتړ قوماندانی کی ترسره کړی او دوی دګزمی او نورسرتیری چی په کندهار، زابل، اورزګان او دایکندی ولایتونوکی وروزل.
دهرځای ځخه د ۱۰ ځخه تر ۶۰ تنانو پوری زده کوونکو هر کورس کی ګډون وکړ، مګر کوترت وای چی د ۲۰ ځخه تر ۵۰ پوری زده کوونکو ټولګیوکی ګټوری دوه اړخیزی اړیکی او د ځان ځخه دفاع روزنی زده کړی.
یادی روزنی د زده کوونکو اړتیا سره سمی په لاره اچول شوی وی مګر یادی ډلی په عمومی توګه د دښمن پروړاندی دمبارزی موضوعات او درسونه ځرګند کړل.
کولترت وویل، " اکثره وخت ائتلافی ځواکونه پدی اند دی چی دښمنی پروړاندی مبارزی روزنی ډیری مهمی دی او ددی روزنو په ترسره کولوسره به افغان ملی امنیتی ځواکونه وکولای شی چی زیاتی هغه تجربی چی د ۱۹۷۹ کال ځخه راپدی خوا رامنځته شویدی زده کړی او د اړتیا په وخت کی تری کار واخلی .
کولترت زیاتوی چی ," که چیری موږ په ټول افغانستان کی د یاغی توب خپریدولو په اړه ځان پوی کړو چی دا ډوناورین ځرنګه رامنځه کیږی، نوموړ بایدی ددی لپاره مسلکی امنیتی ځواکونه ولرو او په اړه یی معلومات ترلاسه کړو چی ولی او څنګه دا ناورین رامنځته کیږی، ددی لپاره چی افغان ملی امنیتی ځواکونه په غوره توګه روزنی ترلاسه کړی نوموږ له دوی سره پدی برخوکی هر ډول مرستی کو ترڅو دوی په خپلو ښپو ودریږی."


په افغانستان کی دنا ټو روزنیز ماموریت د عامه اړیکو دفتر
http://ntm-a.com/wordpress2/archives/category/uncategorized/pashto